تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

# شتمني SHTAMANI

اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

شپږم کال | ۱٦٥ ګڼه | ٤ مخیزه | ۱

ذوالقعدة الحرام ۲۹ -۱٤٤۷ل س | د غويي ۲٦ -۱٤۰۵ل ل | د مي ۱٦-۲۰۲٦ز

**د ګناه په سبب په رزق کي کمي راځي**

د حديث شريف ژباړه: له حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:
بېشکه انسان د هغې ګناه له امله له رزق څخه محرومېږي، چې هغه يې کوي. [صحيح الترغيب والترهيب ٤٥]

**سبب گناه در رزق کاهش به میان میاید**

ترجمه حدیث شریف: از حضرت ثوبان رضی الله عنه روایت است، که نبی کریم ﷺ فرمود:
بدون شک انسان به سبب آن گناهی که مرتکب میشود از رزق محروم میگردد. [صحيح الترغيب والترهيب ٤٥]

( د ماليي وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمانونو لړی

د حج د سفر پر مهال د معلمينو عمومي مکلفيتونه

خلورمه ماده: څلورمه برخه

۱۰- حاجيانو ته په حرمينو شريفينو کې د وخت د تېرولو آداب او د هغو ځايونو اهميت او فضائل بيانول.

۱۱- حاجيانو ته سپارښتنه کول، چې د بعثې د ټولو هيئتونو اصول، مقررات او لارښوونې په نظر کې ونيسي.

۱۲- د حضرت رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم او د شيخينو رضوان الله تعالى عليهما د مبارکو قبرونو د زيارت کولو اړوند آداب او فضائل حاجيانو ته بيانول.

مکلفیت های عمومی معلمین هنگام سفر حج

ماده چهارم: بخش چهارم

۱۰- بیان آداب سپری نمودن وقت در حرمین شریفین و اهمیت و فضائل آن اماکن به حجاج.

۱۱- توصیه به حجاج که اصول، مقررات و رهنمایی های تمام هیئت های بعثه را در نظر بگیرند.

۱۲- بیان آداب و فضائل به حجاج در رابطه به زیارت قبور مبارک حضرت رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم و شیخین رضوان الله تعالی علیهما.

## سرمقاله

### فرصت سرمایه گذاری در کشور بهتر از هر زمان

سرمایه‌گذاری به عنوان اساس تحرک اقتصاد و ضامن یک زندگی با عزت برای مردم هر کشور است. نظر به موقعیت جغرافیایی افغانستان، که آسیای جنوبی را به آسیای مرکزی و حتی اروپا وصل می‌کند، فرصت‌های بی‌نظیری را برای سود آوری سرمایه‌گذاری فراهم ساخته است. در سال های گذشته در کشور ما، شرایط سرمایه‌گذاری به دلیل بی‌ثباتی سیاسی و موجودیت فساد گسترده چندان مساعد نبود. اما در حال حاضر، بسیاری از این مشکلات برطرف شده و امارت اسلامی افغانستان به آمادگی کامل در تامین امنیت سرمایه گذاران، راه های مواصلاتی در کشور، از بین بوردن فساد در ادارت امارتی و غیره مسئولیت دینی و ملی خود می‌داند. ایجاد و تقویت شرایط کاری، وظیفه هر سرمایه‌گذار افغان است. کسی که وطن خود را مانند مادر می‌داند، به عنوان یک فرزند صالح باید در شرایط دشوار در کنار آن ایستاده و از آن حمایت کند. از نگاه اقتصادی، سرمایه‌گذاری در افغانستان به دلیل پایین بودن سطح مزد، مالیات و تعرفه‌ها نسبت به بسیاری از کشورهای دیگر، می‌تواند سودآوری بیشتری داشته باشد. به‌ویژه در بخش منابع طبیعی دست‌نخورده مانند استخراج معادن، زراعت (از جمله زعفران، هینگ، منسوجات و میوه‌های خشک) و صنعت تولیدی، فرصت‌های بزرگی وجود دارد. همچنین با موجودیت زغال‌سنگ ارزان، زمینه برای رشد صنایع، به‌خصوص صنایع فلزی، فراهم شده و می‌توان به‌زودی بازارهای داخلی کشور، آسیای جنوبی و حتی بخش‌های از آسیای مرکزی را در اختیار بگیرد. در شرایط فعلی، امارت اسلامی افغانستان روند سرمایه‌گذاری در کشور، صادرات و واردات را ساده تر ساخته است. بنا براین، بیایید سرمایه‌هایی را که از این وطن به دست آورده ایم، دوباره در همین کشور سرمایه‌گذاری کنیم. از یک سو مسئولیت وجدانی و دینی خود را در قبال مردم و کشور عزیر خود ادا نمایم و از سوی دیگر، زمینه یک زندگی آبرو مندانه را برای هموطنان خود فراهم سازیم؛ بیایید باهم افغانستان را بهتر بسازیم.

**با احترام**

**اداره**

## د ۱٤۰۵ کال عمومي بوديجې اصولنامې د اجراء او تخصيصونو د ثبت روزنيز ورکشاپ جوړ شو




د ماليې وزارت له لوري بوديجوي واحدونو ته د (۱٤۰۵) هـ.ل کال د عمومي بوديجې د اصولنامې د اجراء او تخصيصونو د ثبت په تړاو يو ورځنی روزنيز ورکشاپ جوړ شو. په همدې تړاو جوړه شوې غونډه کې د ماليې وزارت مالي معين حاجي عبدالقدير احمد، د بوديجې لوی رئيس عبدالجبار وحدت، د پلان او ريفورم رئيس پوهندوی غلام عمر عبدالله او د بوديجوي واحدونو مسئولينو ګډون کړی وو. د ماليې وزارت مالي معين د ورکشاپ په پرانيستې وينا کې وويل، چې ټول بوديجوي واحدونه دي د بې ځايه لګښتونو مخنيوی او د عمومي بوديجې غوره مديريت ته جدي پام وکړي او د بوديجې له ټاکلي اصولنامې سره سم دي اړوندې چارې ترسره کړي. د بوديجې لوی رئيس وويل، چې د عمومي بوديجې د اجراء مرحله مهمه ده، نو بايد د لګښتونو په برخه کې لومړيتوبو ته جدي پام وشي، ځکه د پيسو له راټولولو څخه د پيسو پر ځای لګول او مديريت مهم دي. ښاغلي وحدت د بوديجې سم مديريت ګډ مسئوليت ياد کړ او ټينګار يې وکړ، چې له بوديجوي واحدونو سره په ګډه بايد دا مسئوليت په ښه ډول ترسره کړو. په پای کې د عمومي بوديجې اصولنامه او د تخصيصونو د ثبت تخنيکي فورمونه په بشپړ ډول تشريح او د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل شول.

## د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو د څار هيئت يوولسمه ناسته وشوه



د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو د څار هيئت يوولسمه ناسته د اقتصادي وزارتونو او ادارو د با صلاحيته استازو په ګډون د ګمرکونو او عوايدو معينيت د غونډو په تالار کې وشوه. په دغه ناسته کې د اقتصادي کمېسيون د پرېکړې له مخې د امارتي ادارو مکتوبونو او اداري سندونو له پاره د برېښنايي سيستم په تدريجي پلي کولو، د اداري پروسيجرونو د لنډولو، مراجعينو ته د لا اسانتيا رامنځته کولو او د تادياتو بهير د ساده او منظم کولو په موخه د واحد سيستم له لارې په ګمرکي اظهارليکونو کې د اړوندو ادارو د فيسونو پر راټولېدو، د کابل هوايي ډګر په ګمرک کې د سوداګريزو توکو د ښه خونديتوب لپاره د اړوندو ادارو د چارو پر لا چټکوالي، له بوديجوي واحدونو سره د ماليې وزارت د بوديجې عمومي رياست پر شته ستونزو او حل لارو، د املاکو په پروژو کې د ستونزو پر حلولو او يو شمېر نورو موضوعاتو په اړه هر اړخيز بحثونه او لازمي پرېکړې وشوې. د ناستې په پای کې د ګډونوالو نظرونه، غوښتنې او وړانديزونه هم واورېدل شول.



د چارو د لا همغږۍ او پرمختګ په موخه د اداري معينيت د رهبرۍ څلورمه ناسته وشوه

م ۲



د عوايدو او ګمرکونو معينيت د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ يوولسمه ناسته وشوه

م ۲



نو آوری جدید در ارسال مراسلات وزارت ماليه

م ۲



په تېرو دوو اوونيو کې د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کې په زياته اندازه قاچاقي توکې نيول شوي دي

م ۲



پول ملی قدرتمند تحلیل ساختاری ثبات ارزی و پویایی اقتصاد ملی

م ۳




رئيس عمومی عواید از مستوفیت‌های غزنی و زابل دیدار نمود

م ٤

## د چارو د لا همغږۍ او پرمختګ په موخه د اداري معینیت د رهبرۍ څلورمه ناسته وشوه

د مالیې وزارت د اداري معین مولوي دوست محمد مخلص په مشرۍ، په روان (۱۴۴۷) هـ ق کال کې د اداري معینیت د رهبرۍ څلورمه ناسته د اړوندو رئیسانو په ګډون د دغه معینیت د غونډو په تالار کې وشوه. د ناستې په پیل کې د تېرې ناستې موضوعات وارزول شول، چې له مخې یې ډېری موضوعاتو ته پر وخت رسېدنه شوې وه. سربېره پر دې په یاده ناسته کې د امارتي املاکو د سیستم پر عصري کولو، د ریاستونو پر کلنی پلان او میاشتنیو کاري راپورونو، د ځینو جایدادونو د کرایې کمولو، د بهرنیو مجلسونو د راپور ورکولو او یو شمېر نورو موضوعاتو په تړاو هر اړخیز بحث او اړینې پرېکړې وشوې. همداراز اړوندو ریاستونو شته ستونزې او وړاندیزونه هم شریک کړل، چې د رهبرۍ له لوري ورته د پر وخت رسېدو ډاډ ورکړل شو. د یادونې وړ ده، چې د مالیې وزارت اداري معینیت د رهبرۍ ناستې د چارو د لا ښه والي او اغېزمنتوب په موخه ترسره کېږي، چې دغه لړۍ به په راتلونکي کې هم دوام ومومي.




## د عوایدو او ګمرکونو معینیت د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ یوولسمه ناسته وشوه

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د دغه معینیت د اړوندو ریاستونو د رئیسانو او مسئولینو په ګډون د اداري چارو د یوشان پرمخ بیولو او پراختیا په موخه د همغږۍ یوولسمه ناسته وشوه. د لسمې ناستې پر مهال ټاکل شویو پلاوو ته د سپارل شویو مسئولیتونو د اجراآتو راپورونه واورول شول. همداشان په دې ناسته کې په رسمي وخت کې د کارکوونکو پر څارنه، د اړوندو ادارو له لوري د فیسونو د اخیستلو په برخه کې د اسانتیا



رامنځته کولو پر موخه د واحد سیستم په جوړولو، د کنټرول او کیفیت ریاست د عوایدو د راټولولو پر څرنګوالي، په بېلابېلو برخو کې مراجعینو ته د لازمو اسانتیاوو پر رامنځته کولو او یو شمېر نورو مهمو موضوعاتو په اړه هر اړخیز بحث ترسره او لازمې پرېکړې وسوې. د یادولو وړ ده، چې د ګمرکونو او عوایدو معینیت د همغږۍ ناستې هره میاشت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د کاري اړیکو د پراخېدو او د موجوده ستونزو د حل په موخه ترسره کېږي.

## نو آوری جدید در ارسال مراسلات وزارت مالیه

آمریت آرشیف ریاست اسناد و ارتباط وزارت مالیه با همکاری ریاست تکنالوژی معلوماتی با یک نو آوری جدید در شیوه ارسال مراسلات اداری مربوط وزارت مالیه، روند ارسال و دریافت مکاتب اداری را بهبود بخشیده است. هدف از این نو آوری جدید که در رهنمود ارسال مراسلات اداری آمده تسریع در روند امور و کوتاه شدن زمان رسیدگی، جلوگیری از ضیاع وقت، پیشگیری از جعل اسناد، افزایش شفافیت و پاسخگویی، صرفه جویی در مصرف کاغذ و کاهش هزینه ها می باشد. بر اساس رهنمود مراسلات اداری آمریت آرشیف ریاست اسناد و ارتباط، مدارکی ادارات داخلی که قرار است از طریق سیستم این ریاست ارسال شوند، اصل مکتوب و ضمایم در سیستم ثبت و بعد ارسال میگردند. سیستم برای گیرندگان تذکر (پیام) می‌دهد و دریافت کنندگان پس از مشاهده، (پی،دی،اف) مکاتب را داونلود، پرنت و مهر نموده و جهت اجراآت بعدی به مسئول مربوطه ارائه می‌کنند. در صورتیکه مکاتب ارسال فزیکی آن ها ضروری است مانند قراردادها، سوانح، نقشه ها، اسناد املاک و مالی از جمله (م۱٦) پس از صدور از سیستم آرشیف، باید به صورت فزیکی ارسال شوند. علاوه بر آن اسناد که اندازه صفحات آن بزرگ باشد مانند(A۳) در اسکنر عادی امکان اسکن وجود نداشته باشد، از سیستم صدور و بطور فزیکی ارسال می گردد. متحدالمال ها به ادارات مربوطه وزارت



مالیه از طریق سیستم و به ادارات بیرونی فعلاً بطور فزیکی ارسال می گردند. این در حالی است که قبلاً مکاتب و مراسلات اداری مربوط به ادارات داخلی وزارت مالیه و یا بیرونی از طریق پُست و بطور فزیکی ارسال می گردید.

## د امارتي املاکو عمومي رئیس کندهار ولایت ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د امارتي املاکو عمومي رئیس الحاج حافظ عبدالقدیر حقاني کندهار ولایت ته د خپل سفر په لړ کې د دغه ولایت له مستوفي او د املاکو له مسئولینو سره ولیدل. په دې لیدنه کې دواړو لوریو د امارتي جایدادونو پر اغېزمن مدیریت، ښې څارنې، د عوایدو پر زیاتوالي، د شفافیت د تأمین او د پانګونې د فرصتونو د پراختیا په تړاو هر اړخیز بحثونه وکړل، چې وروسته بیا د املاکو مسئولینو د خپلو کړنو، لاسته راوړنو او شته



ستونزو په تړاو مفصل معلومات وړاندې کړل او د املاکو د ښه تنظیم، ثبت او ساتنې په برخه کې یې خپل وړاندیزونه شریک کړل. د امارتي املاکو عمومي رئیس د هغوی د هڅو ستاینه وکړه او ټینګار یې وکړ، چې د جایدادونو قانوني ساتنې، معیاري اجارې او شفافې داوطلبۍ پروسې ته باید ځانګړې پاملرنه وشي. د امارتي املاکو عمومي رئیس له یو شمېر امارتي جایدادونو څخه له نیږدې لیدنه وکړه، اوسنی وضعیت یې وارزاوه او مسئولینو ته یې لارښوونې وکړې؛ ترڅو له یادو جایدادونو څخه اعظمي او مؤثره ګټه پورته شي او ملي عواید نور هم لوړ شي.

## د میدان وردګ او زابل مستوفیتونو کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې پروګرامونه پیل سول

مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم، د میدان وردګ او زابل مستوفیتونو کارکوونکو ته د «ظرفیت لوړونې او مسلکي کولو» تر عنوان لاندیېدوه روزنیز پروګرامونه پیل شول. په یادو پروګرامونو کې به د تجربه لرونکو استادانو له لوري د مستوفیتونو کارکوونکو ته د مالیاتي قوانینو، د سیګټاس سیستم د مؤثرې کارونې او نورو مسلکي موضوعاتو اړوند عملي او نظري زده کړې ورکړل شي. یاد روزنیز پروګرامونه به (۲۳) ورځې دوام وکړي چې د دواړو مستوفیتونو د (٥٦) تنو کارکوونکو، اداري او کاري ظرفیت به ورسره لوړ شي. هېره دې نه وي، چې د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمي له خپل تدریسي پلان سره سم، د مالیاتي او ګمرکي ادارو د کارکونکو د کاري وړتیاوو لوړولو په موخه بېلابېل روزنیز پروګرامونه ترسره کوي.



## په تېرو دوو اوونیو کې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکې نیول شوي دي



د مالیې وزارت د ګمرکونو عمومي ریاست د ګرځنده څارنې کارکوونکو په تېرو دوو اوونیو کې د کندهار، نیمروز، ننګرهار او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکې نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته یې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نیول شویو توکو کې (۹۳۹۹) کیلو ګرامه انساني طبي درمل، (۷۳۲۹) کیلو ګرامه وریجې، (٦۴۹۱) کیلو ګرامه نوې البسه، (۹۸۰۱) کیلو ګرامه پرزه جات، (۹۳۴٦) کیلو ګرامه اورلګیت، (۱۰۳۲۵) کیلو ګرامه رخت، (۱۴۱۳) کیلو ګرامه پټوګان، (۱۱۷٦) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۷٦۸) کیلو ګرامه د وېښتانو تېل، (۱۹۲۰) کیلو ګرامه شیشه‌یي مرۍ، (۳۰۰) کیلو ګرامه صابون، (۲۹۴) کیلو ګرامه هینجه، (۴۱۵) کیلو ګرامه شیدې، (۷۰۰) کیلو ګرامه کچالو، (۳۰۰) کیلو ګرامه اچار، (۱۹۵۰) کیلو ګرامه کیچپ، (۱۰۳۵) کیلو ګرامه نکریزې، (٦۰۰) کیلو ګرامه اوسپنیزې ارې، (۴۳٦) کیلو ګرامه تېزاب، (۳۸۵۰) کیلو ګرامه د سینګار توکي، (۵۳۹) کیلو ګرامه انرژي باب، (۴۷٦) کیلو ګرامه بوتلي کورت، (۱۴۲) کیلو ګرامه مبلایل، (۲۵۱) کیلو ګرامه سبزي جات، (۸۳) کیلو ګرامه کرنیز درمل، (۱۵۰) کیلو ګرامه خام مواد، (۲۸) کیلو ګرامه حیواني درمل (۳۵) کیلو ګرامه پلاستیکي کڅوړې او (۱۵) کیلو ګرامه سرکه شامله ده. نیول شوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل شوي دي.

## د فراه ولایت لپاره نوی مستوفي معرفي شو

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د حکم پر اساس، حاجي نعمت الله مغیره، چې د فراه مستوفیت لپاره د نوي مستوفي په توګه ټاکل شوی وو، د عوایدو او ګمرکونو معین مفتي عبدالمتین سعید، د عوایدو لوی رئیس مولوي سفر محمد سحر او مل پلاوي له لوري د فراه ولایت په مقام کې د یوې ناستې په ترڅ کې د یاد ولایت والي، اړوندو رئیسانو او د مستوفیت اداري کارکوونکو ته ور معرفي شو. د فراه ولایت مقام او مستوفیت کارکوونکو نوموړي ته د ښه راغلاست ترڅنګ په چارو کې د بریا غوښتنه وکړه او د هر راز همکارۍ ډاډ یې ورکړ. د یادونې وړ ده، چې ښاغلي نعمت الله مغیره تر دې وړاندې د هلمند ولایت د مستوفي په توګه دنده ترسره کړې ده.

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

# پول ملی قدرتمند تحلیل ساختاری ثبات ارزی و پویایی اقتصاد ملی

سعید رزمنده

پول ملی در ادبیات اقتصاد کلان تنها یک ابزار تبادل نیست بلکه شاخصی از قدرت تولید ثبات سیاسی و اعتبار بین‌المللی یک واحد سیاسی است. سیر تغییر پول از نظام پایاپای به مسکوکات فلزی و سپس به پول فیاتی (Fiat Money) پس از فروپاشی معاهده برتون وودز در ۱۹۷۱ نشان‌دهنده یک واقعیت است: پشتوانه اسعار در قرن ۲۱ دیگر صرفاً ذخایر فیزیکی طلا نیست بلکه اعتبار پول‌های مدرن بیشتر بر ظرفیت تولید اعتماد به دولت ثبات نهادی قدرت اقتصادی و جایگاه کشورها در زنجیره ارزش جهانی استوار است.

### ۱. دیپلوماسی ارزی و توازن تجارتی

در تیوری‌های اقتصادی ارزش پول ملی رابطه‌ای مستقیم با ترازو یا موازنه پرداخت‌ها (Balance of Payments) دارد. برخی قدرت‌های اقتصادی با استفاده از استراتیژی کاهش عمدی ارزش پول (Competitive Devaluation) تلاش می‌کنند تا مزیت رقابتی صادرات خود را حفظ کنند. به طور مثال زمانی که ارزش پول یک کشور صادرکننده در برابر دالر کاهش می‌یابد قیمت کالای تولیدی آن در بازارهای جهانی ارزان‌تر شده و تقاضا برای آن افزایش می‌یابد. این سیاست که تحت عنوان مرکانتیلیزم نوین شناخته می‌شود باعث شده تا غول‌های تکنالوژی جهانی به دلیل پایین بودن هزینه‌های تولید و دستمزد کارگر پایگاه‌های اصلی تولیدی خود را به مناطقی منتقل کنند که ارزش اسمی پول‌شان کمتر اما توان تولیدی‌شان بالاتر است. این یک مانور اقتصادی برای تسخیر مارکیت‌های بین‌المللی است.

### ۲. انحصار تکنالوژیک

امروز ثبات ارزی با مفهوم مزیت نسبی در تکنالوژی گره خورده است. در این میان جزیره تایوان یک مطالعه موردی (Case Study) بی‌نظیر است. تایوان بیش از ٦۰٪ بازار جهانی تولید قراردادی نیمه‌هادی‌ها (Foundry Market) و بیش از ۹۰٪ چیپ‌های فوق‌پیشرفته را در اختیار دارد. از منظر تحلیل ژئوپلیتیک اقتصادی رقابت قدرت‌های بزرگ بر سر این منطقه در واقع تلاش برای کنترول بر شریان‌های حیاتی هوش مصنوعی و صنایع نظامی است. کشوری که تولید این قطعات را در کنترول داشته نه تنها قدرت اقتصادی خود را تقویت می‌کند بلکه می‌تواند زنجیره تأمین تکنالوژی جهانی را نیز تحت تأثیر قرار دهد که باعث شده این جزیر طی سال های زیادی مرکز منازعه ابر قدرت های جهان باشد.

### ۳. هژمونی پولی و سیستم پترودالر

یکی از ستون‌های اصلی ثبات اسعار در بازارهای جهانی تبدیل شدن یک پول به ارز ذخیره (Reserve Currency) است. پس از موافقت‌نامه ۱۹۷۴ سیستم پترودالر شکل گرفت که بر اساس آن بخش بزرگی از تجارت نفت با دالر قیمت‌گذاری و فاکتور می‌شود. آمارها نشان می‌دهد که امروزه حدود ۷۰ تا ۸۰ فیصد از تجارت جهانی نفت و بیش از ۵۰ فیصد از کل ذخایر ارزی بانک‌های مرکزی جهان را همین واحد پولی تشکیل می‌دهد. این تقاضای ساختاری و اجباری باعث می‌شود که ارز مذکور علی‌رغم نوسانات اقتصادی همچنان جایگاه مسلط خود را در بازارهای مالی حفظ کند.



### ۴. تحلیل آسیب‌شناسی اثرات فشار مالی بیرونی

تجربه کشورهای منطقه نشان می‌دهد که انزوای مالی و محدودیت در دسترسی به سیستم‌های انتقال پولی بین‌المللی (مانند SWIFT) می‌تواند منجر به مارپیچ تورم کاهش ارزش شود. در کشور همسایه (ایران) فشارهای ناشی از تحریم‌های بانکی باعث شده تا نرخ برابری پول ملی در برابر دالر طی پنج دهه از حدود ۷ تومان به مرز ۱۷۰ تا ۱۸۰ هزار تومان برسد. از دیدگاه کارشناسی حتی اگر یک کشور در سکتور زراعت یا تولیدات پایه به خودکفایی نسبی برسد بدون دسترسی به مارکیت‌های سرمایه و تجارت آزاد حفظ ثبات ارزش پول در میان‌مدت با چالش‌های ساختاری مواجه خواهد شد. این موضوع اهمیت دیپلوماسی اقتصادی را در کنار تولید داخلی برجسته می‌سازد.

### ۵. وضعیت پولی افغانستان

مدیریت ثبات در شرایط گذار افغانستان علیرغم محدودیت‌های ارزی توانسته است در سال‌های اخیر پول افغانی را نسبتاً باثبات نگه دارد.

**این ثبات ناشی از چند فکتور کلیدی اقتصادی است:**

کنترول دقیق نقدینگی: جلوگیری از نشر بی‌رویه پول و مدیریت عرضه و تقاضا در بازار اسعار.

**انضباط مالی:** افزایش بی‌پیشینه در جمع‌آوری عواید ملی و کاهش کسر بودجه.

**مبارزه با قاچاق ارز:** اعمال سیاست‌های سخت‌گیرانه در مرزها برای جلوگیری از خروج فیزیکی دالر.

**نتیجه‌گیری**

ثبات پول ملی، معلولِ یک علت واحد نیست؛ بلکه برآیند توازن در سیاست پولی (Monetary Policy) و سیاست مالی (Fiscal Policy) است. برای افغانستان مسیر رسیدن به یک اقتصاد پویا و مستقل از معبر تقویت زیربناهای تولیدی استخراج مسلکی معادن و تبدیل شدن به یک پل ترانزیتی در منطقه می‌گذرد. تنها در این صورت است که پول ملی می‌تواند به عنوان یک دارایی استراتیژیک رفاه ملت را تضمین و جایگاه کشور را در نظام بین‌الملل تثبیت نماید.


# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه( تهیه مواد و تجهیزات تبلیغاتی و نشراتی گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه ۱۳۳۳-NCB/G/۱٤۰۵/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند. جلسه قبل از آفرگشایی : تاریخ ۰۲/ جوزا/۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر تاریخ مشخص آفرگشایی: ۱۲/ جوزا/۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https:// tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦ آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه ۵ جایداد ذیل واقع ناحیه اول ، و ۵ شهر کابل را طور جداگانه به اعلان مزایده می سپارد.

۱. غرفه نمبر ۲۹ به مساحت ٤,۲ متر مربع واقع منزل اول تعمیر ۱٤ منزله سینماپامیر به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۰۵۵۰) افغانی، مدت ۲ سال.

۲. دوکان نمبر ۱٤ به مساحت ۲,۱۵ متر مربع واقع منزل اول سمت جنوب تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲٦۵۵۰) افغانی، مدت ۲ سال. کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,۱۷۲۱۹ ۳٤,۵۱۳٤۲

۳ . دوکان نمبر A۳۱ به مساحت ۱۵ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤٦۰۰) افغانی، مدت ۲ سال.

٤. دوکان نمبر B۱٤-۱۹ بنام هوتل به مساحت ٤۱۳,۵ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم شهر کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱٦۵۵۰۰) افغانی مدت یکسال. کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲

۵. یک باب مغازه نمبر ۱٤ به مساحت ٤۳٤ متر مربع واقع میرویس میدان (کوته سنگی) مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۵۵۰۰۰) افغانی، مدت ۲ سال. کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,۱۱۳۸٤۳ ۳٤,۵۱٤۵۱۵

اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق باشند می توانند درخواست های شان را از تاریخ ۱٤۰۵/۲/۱٤ الی ۱٤۰۵/۲/۲۰ به مدت (۷) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند. آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله ، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز. شماره تماس:( ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)، مجلس داوطلبی ۱٤۰۵/۲/۲۱ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه جایداد های ذیل را از طریق روند مزایده (داوطلبی) طور جداگانه به اعلان می سپارد.

۱ - یک باب دوکان نمبر ۹۱ به مساحت ۵,٦۰۵ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۱۲۹۹) افغانی مدت یک سال.

۲ - یک باب دوکان نمبر ۱۱۷ به مساحت ۵,۵۱ مترمربع واقع ظاهرشاهی مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲٦۰۰) افغانی به مدت یک سال.

۳ - یک باب دوکان نمبر ۵۹ به مساحت ٦,۲۷ مترمربع واقع ظاهرشاهی مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۵۵۵۰) افغانی به مدت یک سال.

٤- یک باب دوکان نمبر ۱۲۲ به مساحت ۵,۵۱ مترمربع واقع ظاهرشاهی مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۹۹٦۳) افغانی. به مدت یک سال.

۵ - دوکان نمبر۲۵بمساحت ٦,۵۹مترمربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۹۰۰۰ ) افغانی مدت یکسال.

٦ - دوکان نمبر۱۰۲ بمساحت ۵,۷٦ مترمربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۷٦۰۰) افغانی مدت یکسال.

۷ - دوکان نمر۱۰۹ به مساحت ۵,۸۵ مترمربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۳۷۵۰۰ ) افغانی مدت یکسال. کوردینات (جی.پی.اس) نمبر:۳٤,۵۱۷۱ ٦۹,۱۷۷۵٦

۸ - یک باب دوکان نمبر B-۷۱ به مساحت ۱۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت مربوط ناحیه پنج شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۹۲۰۰) افغانی به مدت یک سال.

۹ - یکباب دوکان نمبر B-٤۸ به مساحت ۱۵ مترمربع واقع نظیف مارکیت مربوط ناحیه پنج شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۳٦۷) افغانی به مدت یک سال.

۱۰ - یک باب دوکان نمبر A-۸۹,۹۰,۹۱ به مساحت ۵٤ مترمربع واقع نظیف مارکیت مربوط ناحیه پنج شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۵۰۰) افغانی به مدت یک سال. کوردینات (جی پی اس) نمبر: ۳٤,۵۱۵۲۷۲ ٦۹,۱۱۷٤٦

۱۱ - موازی ۷۳۲,٤ مترمربع زمین واقع خیرخانه سمت کوچه فرعی و پارک تفریحی مربوط ناحیه یازده شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۵۰۰۰) افغانی به مدت سه سال. کوردینات (جی پی اس) نمبر: ۳٤,۵۷۲٦۸۸ ٦۹,۱۳۹۷۸۳

۱۲ - یک باب دوکان نمبر ۸ به مساحت ۲۳ مترمربع واقع شهرک البرز ناحیه شانزده شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۳۹۵) افغانی به مدت دو سال. کوردینات (جی پی اس) نمبر: ۳٤,۵۲۱۷۸ ٦۹,۲۰۲۹۸ . اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱٤۰۵/۲/۱٦ الی ۱٤۰۵/۲/۲۲ به مدت (۷) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند. آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله ، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز. شماره تماس:( ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)، مجلس داوطلبی ۱٤۰۵/۲/۲۳ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: عبدالقیوم نصیر
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
ايکسپانه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

شتمنې
SHTAMANI
اوونيزه

زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

ذوالقعدة الحرام ۲۹ -۱٤٤۷ل س | د غويي ۲٦ -۱٤۰۵ل ل | د مي ۱٦ -۲۰۲٦ز | شپږم کال | ۱٦۵ گڼه | ٤ مخيزه





## د فراه گمرک کارکوونکو ته روزنيز پروگرام پيل شو




د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له تدريسي پلان سره سم د فراه گمرک د بېلابېلو برخو کارکوونکو ته روزنيز پروگرام پيل شو. په دغه پروگرام کې گډونوالو ته د مجربو ښوونکو له لوري د گمرکونو قانون، د بېلابېلو بستونو د دندو لايحه، د وارداتي توکو د طی مراحلو پروسه، مالياتي کوډونه او نور اړين موضوعات تشريح کېږي، چې د کارکونکو کاري وړتياوي به لوړې او په اړوند چارو کې به لا ډېر ښه والی او پرمختگ رامنځته شي. د يادونې وړ ده، چې دغه پروگرام به (۱۵) ورځې دوام وکړي او (۳۵) تنو کارکوونکو ته به پکې په عملي او نظري ډول زده کړې ورکړل شي.

## رئیس عمومی عواید از مستوفیت‌های غزنی و زابل دیدار نمود




رئیس عمومی عواید وزارت مالیه الحاج مولوی سفر محمد سحر به منظور ارزیابی امور مستوفیت‌ها طور جداگانه از مستوفیت‌های غزنی و زابل دیدار نمود. در این دیدار رئیس عمومی عواید با مستوفیان، آمرین و کارمندان اداری نشست داشت. نامبرده به منظور بهبود امور مستوفیت‌ها، دستیابی به هدف عوایدی و ایجاد سهولت‌ها برای تاجران و مالیه‌دهندگان، به مسئولین و کارمندان اداری توصیه‌های لازم نمود. محترم سحر در جریان این دیدار علاوه بر استماع گزارش دستاوردهای مستوفیت‌ها، نظریات، مشکلات کاری و پیشنهادهای کارمندان اداری را نیز به منظور پیشرفت و بهبود امور اداری استماع نمود. رئیس عمومی عواید از رسیدگی به مشکلات و پیشنهادات مستوفیت‌ها اطمینان داد. قابل ذکر است، که رئیس عمومی عواید به منظور ارزیابی امور مستوفیت‌ها و استماع دست‌آوردها و مشکلات، سفرهای ولایتی را انجام می‌دهد.

## سیر علمی محصلین رشته اقتصاد پوهنتون قندهار به وزارت مالیه




محصلین رشته اقتصاد پوهنتون قندهار همراه با جمعی از استادان، در چارچوب برنامه‌ای تحت عنوان «سیر علمی» از وزارت مالیه دیدار کردند. هدف از این بازدید، آشنایی با بخش‌های مختلف این وزارت و کسب تجارب عملی می باشد. در نشستی که به همین مناسبت در صالون کنفرانس‌های خیبر برگزار شد، شیخ محمد نعیم جمیل رئیس بورد حقوقی وزارت مالیه، مفتی عبدالوهاب عابد، آمر آموزش و ارتقای ظرفیت، شماری از مسئولین این وزارت و محصلین و استادان پوهنتون قندهار حضور داشتند. آمر آموزش و ارتقای ظرفیت ریاست امور کارکنان، ضمن خوش آمدگویی به محصلین و استادان، اظهار داشت که اقتصاد امروز بدون استفاده از تکنالوژی‌های نوین قابل پیشرفت نیست؛ ما می‌خواهیم محصلین بیاموزند چگونه با بهره‌گیری از هر دو، راه‌حل‌های عملی و مؤثر برای چالش‌های مالی کشور ارائه کنند. رئیس بورد حقوقی نیز با تأکید بر اهمیت تلاش در مسیر علم‌آموزی گفت: «با کسب دانش و استفاده درست از آن، می‌توان خدمات بهتری به مردم ارائه کرد و در پیشرفت کشور سهم گرفت.» وی همچنین نقش ادب، رعایت قانون و بهره‌گیری از راهنمایی اهل‌فن را در این مسیر مهم دانست. پوهنیار گلاب‌الدین نور، به نمایندگی از استادان رشته اقتصاد پوهنتون قندهار، از فراهم‌سازی این فرصت سپاسگزاری کرده و این بازدید را زمینه‌ساز ارتقای ظرفیت علمی محصلین خواند. وی همچنین نقش دیدگاه‌های مسئولین وزارت مالیه را در غنی‌سازی استراتژی‌ها و پالیسی‌های مالی مؤثر دانست. گفتنی است که در جریان این برنامه، محصلین به‌گونه مستقیم با وظایف وزارت مالیه و روندهای کاری از جمله بودجه، عواید، مالیات، گمرک، تدارکات، پالیسی‌ها، ثبت و کنترول و سایر بخش‌های مهم آشنا شدند.

## تفاهم‌نامه همکاری میان وزارت مالیه و شرکت مخابراتی روشن به امضاء رسید

تفاهم نامه همکاری میان وزارت مالیه و شرکت مخابراتی روشن به منظور فراهم سازی سهولت های لازم مخابراتی و انترنتی برای کارمندان وزارت مالیه به امضاء رسید. مفتی نیاز محمد منصور، آمر استخدام و وارسی کننده ریاست امور کارکنان وزارت مالیه و صفی الله عمید، رییس تجارتی شرکت مخابراتی روشن این تفاهمنامه را به امضاء رسانیدند. به اساس این تفاهمنامه، کارمندان وزارت مالیه می توانند سیمکارت های روشن را با تخفیف های بلند مدت (بسته های انترنتی، پیام های صوتی و کتبی) دریافت کنند.


د افغانستان اسلامي امارت
د ماليې وزارت
د اړیکو او عامه پوهاوي رياست

امارت اسلامی افغانستان
وزارت ماليه
رياست ارتباط و آگاهی عامه

## د تثبيت شويو متقاعدينو د حقوقو د ورکړې اتم نوبتي مهالوېش

د غويي 20مه 1405هـ.ل

د ماليې وزارت د تقاعد د حقوقو عمومي رياست د متقاعدينو د حقوقو د ورکړې اتم نوبتي مهالوېش اعلانوي، چې له مخې به يې د روان (1405) هـ.ل کال د غويي (ثور) مياشتې له (26) مې نېټې څخه له منظم مهالوېش سره سم، په نوبتي ډول د لاندې دوو تثبيت شويو ادارو د متقاعدينو د حقوقو ورکولو پروسه طی مراحل کېږي.
د لاندې ادارو قدرمن متقاعدين دې د تقاعد د حقوقو عمومي رياست ته له حضوري ورتگ څخه مخکې د (WWW.pension.af) ويبسايټ څخه نوبت ترلاسه کړي او پر ټاکلي نوبت دې د خپلو حقوقو د طی مراحلو په موخه دغې ادارې ته مراجعه وکړي.
هغه قدرمن متقاعدين، چې د ادارې نوم يې په لاندې نوملړ کې شامل نه دی؛ د تقاعد د حقوقو عمومي رياست ته دې مراجعه نه کوي!

| شمېره | د ادارې نوم | د پيل نېټه | د پای نېټه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کرنې اوبولگولو او مالدارۍ وزارت | 1405/02/26 | 1405/05/25 |
| ۲ | د ملي امنيت ډگروالان | 1405/02/26 | 1405/04/25 |

د پاتې نورو ادارو مهالوېش به په خپل نوبت سره اعلان شي.



### د ماليې وزارت د گمرکونو عمومي رياست تل ستاسو په خدمت کې دی!

که تاسو د گمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومې ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

### رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه هميشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱





### د شکايتونو اورېدلو آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای شي، چې د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له آمريت سره يې په حضوري بڼه او يا د لاندې ادرسونو له لارې شريک کړي.
ټيليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af



شتمنې اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.